درویش وردک
۲۸ اپریل ۲۰۱۶

## دری دیرشم مجلس(دقیامت په ورځ دخدای دیدار)

د ۵۴۵هجری قمری کال دجمادی الاخرپه دیارلسمه دیکشنبی په سهارشیخ عبدالقادرگیلانی(رضی الله تعالی عنه) په مدرسه کی داسی وفرمایل:

هرچاچی یوکس دخدای له دوستانوڅخه ولید، په واقعیت کی یی هغه ځوک لیدلی چی خدای یی دزړه اوباطن په سترګومشاهده کړی دی. تبارک وتعالی خدای هغه وجود دی، دلیدلو وړ، پیغمبراکرم(صلی الله علیه وسلم) فرمایلی: (سَتَرَوْنَ رَبَّكُمْ كَما تَرَونَ الشَّمسَ وَالْقَمَرَ لاتَضامُونَ فِی رُوْ يَتِهِ)-«دخدای دیدارممکن دی، داسی لکه چی لمراوسپوږمی وینی». نن دزړه په سترګو، اوسبا دسرپه سترګو.( (لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْئٌ وَهُوَ السَمیَ البصیر).

دخدای دوستان،دهغې په مقدراتوراضی دی، اوله ده پرته له غیروبیګانه. یوازی یی دده په الطافوبسنه کړی. دفقرترخه ورته خواږه دی. فقراورضا، توانګری اودرویشی، ټول له دوی سره اودخدای له لوری دی. خپل سلامت په ناروغیو کی وینی، خپل انس په وحشت کی وینی، اوخپل راحت دکړاونو په تحمل کی ګوری. خوشحالی دی وی دتاسو پرحال،ای صابرانو، ای راضییانو، ای هغه کسانوچی دنفس هواموله منځه وړی.

(ای قومه) راشی، دخدای له رضا سره موافق اوسی، دځان اونورو پروړاندی دخدای افعالوته درضا په سترګووګوری. له هغوسره چی ستاسو څخه ډیرهوښیاردی جګړه مه کوی. (اللّهُ يَعلَمُ وَاَنْتُم لاتَعلَمُونَ)-«خدای دانادی اوتاسو نه پوهیږی».

دخدای پروړاندی پرته دعقل له اظهاره حاضرشی، ترڅو دالهی علم څخه بهره واخلی، دخدای په جبروت اوجلال کی متحیرشی، ترڅو دحق دپیژندی علم درته حاصل شی. تحیردکارپیل اودعلم حصول وروسی دی اوپه دریمه مرتبه کی دالهی اسرارو نوروعلوموته لاس رسی.

لومړی قصد اواراده، بیا مقصودته رسیدل، لومړی اراده اوبیا مراد ته وصول حاصلیږی. واوره اوعمل وکړه، زه ستاسو سسته رسی ستا ستو دژغورنی لپاره تاووم، نه دځان په خاطر. زه پرته ستاسو له غمه بل غم نلرم، زه هغه الوتونکی یم چی هرځای راپریوزم، راپورته کول کیږم. ای په غفلت کی ناستو،تاسو په ډېرو ولی. ای چی دنفس دهواپابیند یاست اوپه خپلوهیلومو زړه تړلی، زما پند واوری اودخدای لوری ته راوګرځی.

لویه خدایه، مااودوی دخپل رحمت مشمول وګرځوی.

«ربنا آتنا فی الدنیا حسنه وفی الاخره حسنه وقنا عذاب النار» آمین.